محمد طارق بزگر، ليلستروم، ناروی تاريخ ۱۷ / ۰۱ / ۲۰۰۹

# هغه انځورنه چې په هر ځل ليدو ورته ژاړم

## که نه غواړئ چې وژاړئ نو د دې ليکنې د لوستلو او انځورونو د ليدلو نه ډډه وکړئ

انځورونه د نوي ژوناليزم د خبر د رسولو او د خلکو د خبرولو يوه ستره وسيله ده. ډير داسې انځورونه وي چې خبرې کوي پرته له دې چې تفسير او تحليل شوي وي.

تير کال د ناروې د لوړو زده کړو په يوه مرکز کې چې د انترنتي ژورناليزم په اړه د خپلو زده کړو په جريان کې يوه موضوع هم په ژوناليزم کې د انځورونو په رول باندې وه چې يوه برخه يې هغه انځورونه وو چې خپله خبرې کوی او تفسير او تشريح ته ضرورت نه لری. چې په دغه ارتباط يو داسې انځور د استاد لخوا وښودل شو چې د ګازو د يوې فابريکې نه کارګر په داسې حال کې چې اوښکې يې د سترګو رواني، خپله پزه يې نيولې او شاته د فابريکې نه ګاز په ډيره اندازه د اسمان په لوري پورته کيږي ليدل کيده.

د استاد په وينا دغه انځور پخپله خبرې کولې ځکه په ليدو يې هر څوک پوهيده چې څه پيښه شوې ده.

پروفيسر مې ورزباته کړه يو نيم عکس داسې وي چې د تل له پاره په ذهن او حافظه کې پاتې کيږي او د انسان د ژوند د خاطرو تلپاتې ملګرى وى او هيڅکله هيريږي نه، ماته د استاد خبرې داسې ښکاره شوې چې پوره يقين مې پرې راغې چې دا څنګه کيدای شی، ما خو ژوندې ډيرې داسې غمجنې پيښې ليدلې خو د وخت په تيريدو مې بيا له ياده وتې دي.
خو د دې انځورونو په ليدو راته داسې ښکاري چې استاد مې سمه خبره کوله.

په هر حال د افغانستان خلکو د انځور پرته ډير بشري ناورينونه، جنګي جنايتونه، جنګ جګړې او د پرديو وحشيانه کړه وه په تيرو ديرشو کلونو کې ليدلي او تر اوسه دا لړی په خپل شدت سره روانه ده.

ما د يوه خبريال او ژورنالست په توګه بيشميره داسې انځورونه ليدلي چې د يوه وخت له پاره يې ژړولي او ډير دردولی يم او د دعوت په ارشيف کې هم په زرګونو داسې انځورونه شته خو کوم انځورونه چې غواړم تاسو سره شريک کړم دا د ټولو نه توپير لری..

زه په روغتون کې بستر وم او تازه مې عمليات شوی وو په روغتون کې شپې تيرول به د هيچا د پاره په زړه پورې نه وي خو دې ته خوښ وم چې عمليات مې په بريالي ډول وشول او د دردونو نه مې وجود سپک شوي وو. يو ستر ، نوي او ډير پرمختللی روغتون چې د مريضانو له پاره يکې هر څه شته، خپل ټلويزيون، انترنت او نور، خو هغه دستګاه چې زما د بستر برخه وه انترنت يې کار نه کاوه، خو د ښه بخته يې راته د کور نه خپل لاسي کمپيوټر راوړ، چې ساعت مې ورسره تيرو، دعوت ويبپاڼې ته مې نوي ليکنې پورته کړې دا په غزې باندې د يهودې وحشت او بشري او جنګی ستر جنايت ۱۷مه ورځ وه. د نورو خبرونو د لوستلو په جريان کې مې د غزې هغه انځورونه لاس ته راغلل چې په ليدو به يې هر مسلمان وژاړي .


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

ما د انځورونو په ليدو همغلته په روغتون کي بي اختياره وژل او د اوښکو ځاځکي مي له سترګو په تلو ول، لږ وروسته چي د سهار شپږ پجي وي نرسه راغله چي وينه مي واخلي، تبه او ويني فشار مي وګوري پوښتنه يي وکړه چي کومه خبره خو نشته ما په ځواب کي وويل نه، ويل ولي دي سترګي سري او اوښکي رواني دي، ويل درد لري ما ويل نه، خو په شکي سترګو يي راته ښکته پوره وکتل او نور يي څه ونه ويل او خپل کار ته يي دوام ورکړ.

خو ما په زړه کي وويل ما داسي څه ليدلي که هر څوک چي د انساني زړه خاوند وی او دا انځورونه وګوري زما خو اوښکي رواني دي کيداي شي د هغوی د سترګو نه د اوښکو په ځای ويني رواني شي.

خو اوس خبره بله ده يو بل څه غواړم ووايم او هغه دا چي څلور انځورونه چي په هر ځل ليدو يي ژاړم، د ځان سره مي فيصله وکړم چي دا انځورونه به بيا نه ګورم خو بيا دغه انځورونه ما خپلي خواته کشوي او د هغه درد او ستر بشري ناورين نه پرده پورته کوي چي فلسطيني ولس او په ځانګړي توګه د غزې ميرني ولس ورسره مخامخ دي.

دا انځورونه د هغه ستر وحشت کيسه کوي چي نړی پرې سترګي پټي کړي دي

دا انځورونه د هغه ناورين کيسه کوی چي د پنځه لسيزو راپديخوا ورسره فلسطيني ولس لاس او ګريوان دی.

دا انځور د هغه جنايت کيسه کوي چي د تروريزم سره د مبارزې په نوم پرمخ بيول کيږي

دا انځورونه د عربي نړی د هغه بزدلو او په قدرت، چوکی اود امريکا په غلامی مينو د ناولو مخونو نه پرده پورته کوي.

دا انځورونه يهودی وحشت او د هغوي سخت زړيتوب او د فلسطنيانو سره دښمني ښيی.

دا انځور د نړيوالو سياست مدارانو د دوه مخي سياستونو نه پرده پوره کوي، چي دغلته ظالم او مظلوم په يوه تله کي تلی.

دا انځورونه د اسرايلو نه د امريکا ړانده ملاتړ نه پرده پورته کوي

دا انځورونه د جنايت کار او مسلمان وژونکي جورج بش د قدرت د وروستيو شيبو اسلام دښمني ښيی.

فکر مو اوسه همدا د يهودو ملاتړي امريکايان په افغانستان کي د ترور په نوم په جګړه اخته دي، هلته به زما او ستا د ورونو خويندو څه حال وي؟؟؟؟!!!!!


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de


يبكي على والدته
gettyimages
WWW.RASHEED-B.COM


gettyimages
WWW.RASHEED-B.COM







www.dawat.no


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de